

# د اِمام حُسين رَضِیَ اللہُ تَعالٰی عَنْہُ کَرامات


شَيخِ طَرِيقَت، اَمِيرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت بركاتهم العالية



پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب د لوستلو دُعا

د ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام

**ترجمه:** اے الله جَلَّ جَلَالُہٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړي او په مونږه خپل رحمت رانازل کړي! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالبِ غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د کتاب نوم: **دامام حُسين** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ **کَرامات**

اول ځل: .................

تعداد: .............

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه ته رجوع اوکړئ.

www.dawateislami.net

# د اِمام حُسین رضی اللہ تعالٰی عنہ کَرامات

شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه دا کتاب "د اِمام حُسین رضی اللہ تعالٰی عنہ کَرامات" په اردو ژبه کښې لیکلې دې.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې کتاب په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غلطي یا کمي، زیاتي اوګورئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


د اِمام حُسین رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ګَرامات.........................1
د دُرُود شریف فضیلت.........................................................1
پیدائش مُبارك...................................................................1
په مخ مبارك انوار.............................................................3
په کوهي کښې اوبه زیاتي شوې.............................................3
ګُستاخه کس اَس اور ته غوزار کړو.......................................4
تور لړم وچیچو..................................................................6
د اِمامِ حُسین ګُستاخه ترږې مړ شو......................................8
ګَرامات د اِتمامِ حُجَّت یوه کړۍ وه........................................9
د نُور ستن او سپینې مرغۍ.................................................10
د خَولي بن یَزِید دردناك انجام...........................................12
په نیزه د پاسه د سر مُبارك تِلاوت......................................13
په وِینو لیکلې شوې شعر....................................................16
د سر مبارك په ګَرامَت د راهِب قبُولِ اسلام.........................17
دِرهَم او دِینار کودنړي جوړ شو...........................................18
سر مُبارك چرته دَفَن شو؟..................................................21
د سر مُبارك د قبر زیارت....................................................23
د سر مُبارك نه د سلام جواب..............................................24
د سر مُبارك عجیبه بَرَکت...................................................26
تکلیف ورکونکي خزنده څه دي؟...........................................27
د سر مُبارك ځلیدل...........................................................29


www.dawateislami.net

د رضائے مُصطَفیٰ ﷺ راز.........................................30
د مختلفو مُشاهَدو وَضاحَت.........................................31
د بخښنې نه د مایوسۍ لړزوونکې حِکایت.........................................32
حُبِّ جاه و مال.........................................39
د یزید عبرتناك مرګ.........................................40
د اِبنِ زِیاد دردناك انجام.........................................42
د اِبنِ زِیاد په پوزه کښې مار.........................................43
د بدو انجام بد وي.........................................44
مُختار د نُبُوَّت دعویٰ وکړه.........................................46
د الله تَعالیٰ د پټ تدبِیر نه یَرِیدل پکار دي.........................................48
د عاشُوراء فضائل.........................................50
د عاشُوراء ۲۵ خُصُوصِیات.........................................50
د "کربلا" د پینځه حُرُوفو په نِسبِت د مُحَرَّمُ الْحَرَام
او د عاشُورې د روژو ۵ فَضائل.........................................52
د عاشُورې روژه.........................................53
د یَهُودیانو مخالفت کوئ.........................................53
ټول کال د سترګو د خُوګیدو او مرضونو نه حفاظت.........................................53

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ 1

# د اِمام حُسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ كَرامات

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي خو تاسو د ثواب په نِيَّت دا رِساله پوره ولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰى ستاسو په زړه كښې به د اَهلِبَيت (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) ډير زيات مَحبَّت پيدا شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

زمونږه خوږ خوږ مَدَنــي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چه كله د زيارت ورځ راشي، اللّٰه تعالٰى فرښتي راليږي چه د هغوئي سره د سپينو زرو كاغذونه او د سرو زرو قلمونه وي هغوئي ليكي چه څوك د زيارت په ورځ او د جُمُعې په شپه په ما باندي په كثرت سره دُرُودِ پاك لوَلي. (كَنْزُ الْعُمَّال ج١ ص٢٥٠ حديث٢١٧٤)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْــب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پيدائش مُبارك

د خوږ مَدَنــي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ نمسي، د شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ځيګر ټُكره او د فاطِمه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د زړه ټكور سَيِّدُ الشُّهَداء، اِمامِ

www.dawateislami.net

عالي مُقام حضرتِ سَیِّدُنا اِمام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډیر د کَرامتونو خاوند وو تر دې چه د هغوئ په پیدائش مُبارك کښې هُم د هغوئ کَرامت دې. حضرت سَیِّدي عارِف بِاللّٰه نُورُ الدِّین عبدُ الرَّحمٰن جامي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په شَوَاهِدُ النُّبُوَّۃ کښې لیکي، د سَیِّدُنا اِمامِ حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ پیدائش مُبارك په خلورم شَعْبَانُ الْمُعَظَّم سن ٤ھ کښې په مدینۂ مُنَوَّره کښې د سه شنبې [یعني د نهې] په ورځ وشو. منقول دي چه د اِمام پاك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د حَمْل [یعني د مور په کیډه کښې] موده شپږ میاشتې وه. د حضرتِ سَیِّدُنا یَحیٰي عَلَیْہِ السَّلَام او اِمام عالي مُقام اِمام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه علاوه د شپږو میاشتو د حَمْل د مودې بل یو ماشوم هُم ژوندې نه دې پاتې شوې.

وَاللّٰہُ تَعَالٰی اَعلَمُ وَرَسُولُہٗ اَعلَم عَزَّوَجَلَّ وَ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(شَوَاهِدُ النُّبُوَّة ص ٢٢٨ مکتبةُ الحقیقة تُرکی)

مرحبا سرورِ عالم کے پسر آئے ہیں
سیدہ فاطمہ کے لختِ جگر آئے ہیں
واہ قسمت کہ چراغِ حرمین آئے ہیں
اے مسلمانو! مبارک کہ حسین آئے ہیں

مـرحـبا د خوږ نبـي پِـسـر راغلو
د سیِّده فاطِمه د زړګي سر راغلو
شمع د قِسمت داخِل شوه په حَرَمَین
مسلمانانو مبارك شه راغلو حُسین

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!
صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په مخ مبارك انوار

حضرتِ سَیِّدُنا علامه جامي رَحمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي چه: د حضرتِ امامِ عالي مُقام سَیِّدُنا اِمام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ دا شان وو چه کله به په تِیاره کښې تشریف فرما وو نو تندي مُبارك او دواړو اننګو مبارکو به ئې انوار [یعني رنړاګانې] کولې او خوا و شا ځائیونه به روښانه شو. (ایضاً ص۲۲۸)

تیری نسلِ پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا
تُو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانہ نور کا

ستاسو نسلِ پاك کښې دي بچې بچې د نُور
بچپله تاسو نُور ئې، ستاسو ټول اولاد دي نُور

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په کوهي کښې اوبه زياتې شوې

حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ عالي مُقام اِمامِ حُسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ چه کله د مديني مُنَوَّرې نه د مَکّې مُکَرَّمې په طرف روان شو نو په لار کښې ئې د حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ مُطِیع رَحمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ سره مُلاقات وشو. هغوئي عرض وکړو چه زما په کوهي کښې اوبه ډیرې کمې دي، برائے کرم!

www.dawateislami.net

د بَرَکت دُعا وکړئ. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه کوهي اوبه را اوغوښتلي، چه د اوبو بوقه حاضره کړې شوه نو حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ پرې خُله مُبارکه کيښوده او اوبه ئې ترې وڅښکلې او په هغې کښې ئې د خُلې مُبارکې اوبه واچولې. بيا ئې هغه بوقه [يعني هغه اوبه] بيرته کوهي ته واچولې نو د کوهي اوبه ډيرې زياتې شوې او د پخوا نه خوږې او خوندورې هُم شوې.

(الطبقاتُ الکُبرٰی ج۵ص۱۱۰، دار الکتب العلمية بيروت)

باغِ جنت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اہلبیت
تم کو مژدہ نار کا اے دشمنانِ اہلبیت

باغونه د جَنَّت دي د پاره ثناخوانِ اَهلِبَيت
تاسو ته شه اور مبارك دُښمنانِ اَهلِبَيت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## گُستاخه کس اَس اور ته غوزار کړو

اِمامِ عالي مُقام حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د عاشُورې په ورځ يعني ۱۰ مُحَرَّمُ الْحَرَام سن ٦١ھ د جُمُعې په ورځ کله د اِتمامِ

حُجَّت د پاره په میدانِ کربَلا کښې یزیدیانو ته **خُطبه** وئیله نو په هغه موقع د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مظلومې قافِلې د خیمې د حفاظت د پاره په کنده کښې د بل کړي اور طرف ته یو بدزبانه یزِیدي (مالِك بِن عُروه) داسې بکواس وکړو چه، "اے **حُسین!** تا د هغه ځائ د اور نه **مخکښې** دلته اور ولګوو!" "حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل "كَذَبْتَ يا عَدُوَّ اللّٰه" یعني اے د خُدائے دُښمنه! ته دروغژن ئې، آیا ته دا ګُمان لرې چه **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ زه به ګني دوزخ ته ځم!" د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قافِلې یو جان نثار [یعني ځان قُربانوونکې] ځوان حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن عوسجه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ حضرتِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته عرض وکړو: اجازت راکړئ چه د دې بدکلامه کس خُله یو تِیر اُووَلم. حضرتِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُاُوفرمائیل چه! زمونږ له طرفه وړومبئ حمله کول نه دي پکار او اجازت ئې ورنکړو. بیا تړي اِمام، حضرتِ سَیِّدُنا اِمام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دُعا د پاره لاس پورته کړل او عرض ئې وکړو: "یا رَبِّ قَهَّار عَزَّوَجَلَّ! دا بې ادبه د جهنَّم د اور نه **مخکښې** په دې دُنیا کښې هُم د اور په عذاب کښې اخته کړې." دُعا فوراً قبوله شوه او د هغه [بې ادبه

www.dawateislami.net

کس] د اَس ښپه په زمکه کښ موجود يو سُوري کښ ورغله او د هغې په وجه اَس جټکه اُوخوړله او بې ادبه او ګُستاخه يزيدي د اَس نه راغوزار شو او ښپه ئې په رِکاب [يعني پائيدان] کښ ونښتله، اَس په منډه شو او هغه ئې په ځان پسې راښکو او په راښکلو راښکلو ئې د اور کندې ته غوزار کړو او هغه بدنصيبه په اور کښ داسې وسوزيدو چه تور سکور شو. اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سَجدهٔ شُکر وکړه او د الله تعالیٰ حَمْد ئې بيان کړو او عرض ئې وکړو چه: "يا الله عَزَّوَجَلَّ ستا شُکر دې چه تا د اٰلِ رسُول ګُستاخه ته سزا ورکړه."

(سَوانِحِ کربلا ص۸۸)

اہلبیت پاک سے بے باکیاں گستاخیاں لعنۃُ اللّٰہ علیکم دشمنانِ اہلبیت

په شان د اَهلِبَيتو کښ ګستاخۍ او بيباکۍ
لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَيْكُم دُښمنانِ اَهلِبَيت

## تور لړم وچيچو

د هغه ګُستاخه او بدکلامه يزيدي د سمدستي عِبرتناك انجام نه د عِبرت حاصلولو په ځائ يزيديانو هغه يو اِتِّفاقي واقعه وګڼړله او يو

www.dawateislami.net

بل بيباکه يزيدي داسې بکواس وکړو چه: ته د اللّٰه تعالیٰ د رَسُول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څه نِسبت لرې؟ [يعني ته د رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هيڅ هُم نه ئې] دا ئې چه واوريدل د اِمامِ عالي مُقام رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ زړه ته سخت تکليف ورسيدو، خفه شو او دُعا ئې وکړه چه: "يا اللّٰه دا بد ګُفتاره په خپل عذاب کښې ګرفتار کړې." د دُعا اثر فوراً ښکاره شو او هغه بکواسي ته د قضائے حاجَت [يعني د اودس ماتولو] ضرورت پيښ شو او فوراً د اس نه کوز شو او يو طرف ته ئې منډه کړه او اودس ماتولو ته کښيناستو، ناڅاپه يو تور لړم وچيچو، ګنده راپاڅيدو او په سخته بې قرارئ کښې ئې اخو ډيځوا منډې وهلې او د ډير زيات ذِلَّت سره د خپلو لښکريانو په مخکښې هغه بد زبانه مړ شو. خو هغوئې د کاڼړي په شان زړه لرونکو بې شرمو دا واقعه هُم يو اِتّفاقي اَمر وګڼړله او هيڅ عِبرت ئې حاصل نه کړو. (ايضاً ص۸۹)

علی کے پیارے خاتونِ قیامت کے جگر پارے
زمیں سے آسماں تک دھوم ہے ان کی سیادت کی

د علي او فاطِمې د زړګي سـر دي
هُم په زمکه دي سردار هُم په آسمان

www.dawateislami.net

# د اِمامِ حُسین ګُستاخه تږې مړ شو

د یزیدي فوج یو سنګدله مُزني کس اِمامِ حُسین رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته مخامخ راغې او داسې بکواس ئې وکړو چه: ”اُوګوره د فُرات دریاب څنګه چپې وهي، قَسَم په خُدائے چه تا ته به د دې یو څاڅکې هُم درنکړې شي او ته به دغسې تږې هلاك شې.“ سخت تږي اِمام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د الله تعالیٰ په بارګاه کښې عرض وکړو، ’اَللّٰهُمَّ اَمِتْهُ عَطْشَانًا‘ یعني ”یا الله عَزَّوَجَلَّ! دې د تندې نه مړ کړې. اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه څنګه دُعا اوغوښتله نو فوراً د هغه بې حیا مُزني آس وَتریدو او وتښتیدو، مُزني ورپسې د نیولو د پاره منډې کړې، [په منډو منډو] ډیر تږې شو، دومره سخت تږې شو چه اَلْعَطَش! اَلْعَطَش! یعني هائے تندہ! هائے تندہ! به ئې وئیلې خو چه کله به ئې په اوبو خُله کیښوده نو یو څاڅکې به ئې هُم نه شو څښلې تر دې چه د هُم هغه سختې تندې د د لاسه مړ شو. (سَوانِحِ کربلا ص۹۰)

ہاں مجھ کو رکھو یاد میں حیدر کا پسر ہوں
اور باغِ نبُوّت کے شجر کا میں ثمر ہوں
میں دیدہ ہمت کیلئے نورِ نظر ہوں
پیاسا ہوں مگر ساقی کوثر کا پسر ہوں

ما یاد ساتئ زه ځوئ یم د حیدر | د باغِ نُبُوَّت د شَجَر یم زه ثَمَر
د هِمَّت د خاوندانو یمه زه نُورِ نظر | یم تربِي خو اولاد یمه د ساقئِ کوثر

# کَرامات د اِتمامِ حُجّت یوه کړئ وه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ شان څومره اوچت وو. معلومه شوه چه اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ته د اِمامِ پاك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ګُستاخي قَطعاً نامنظوره ده، او د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ګُستاخه په دواړو جهانو کښې مردُود او رټلي شوي دي. ګُستاخانِ حُسین په دُنیا کښې هُم د دردناك انجام سره مخامخ شو. بیشکه په دي کښې غټ عِبرت دي. صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیۡه د بعضې ګُستاخانِ حُسین د سمدستي عبرتناك بد اَنجام واقعات نقل کولو نه پس لیکي چه: فرزندِ رسول دا هُم بنودل چه د اللّٰه تعالیٰ په بارګاه کښې د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مقبولیَّت او نزدیکت او منزِلَت چه څنګه د نُصُوصِ کثِیره او مشهورو احادیثو نه ثابت دي، هُم دغسې پرې د هغوئي دا کَرامات هُم ګواه دي. د خپل فضیلت عملي طور ښودل هُم د اِتمامِ حُجَّت د سلسلې یوه کړئ وه چه که تاسو سترګې لرئ نو اوګورئ چه څوك

www.dawateislami.net

داسي مُستجابُ الدَّعَوات (یعني د چا چه دُعا قبلیږي) دي د هغه په مقابله کښې راتلل د الله (تعالٰی) سره جنګ کول دي. د دې په انجام غور وکړئ او سم شئ خو هغه شرارتیانو د دې نه هُم عِبرت وانغستو او د دې فاني دُنیا په حِرص کښې بالکل راِنده شوي وو. (سَوانِحِ کربلا ص۹۰)

## د نُور ستن او سپیني مرغۍ

د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د شهادت نه پس د هغوئي د سر مُبارك نه کښې شمیر کرامات ظاهر شو. د اَهلِبَیت عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان د قافِلي پاتي کسان په ۱۱ **مُحَرَّمُ الْحَرَام** کُوفي ته ورسیدل او د شُهدائے کربلا مُبارك سرونه د هغوئي نه مخکښې هلته رسیدلي وو. دِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ **سر مُبارك** د رُسوائے زمانه یزیدي "خولي بن یزید" بدبخته سره وو. دا مردُود د شپي کُوفي ته ورسیدو. د قَصرِ اَمارَت (یعني ګورنر هاؤس) دروازه بنده شوي وه. هغه **سر مُبارك** خپل کور ته یوړو. هغه ظالِم **سر مُبارك** په بي ادبئ سره په زمکه کیښودو او غټ لوښي ئي پري نسکور کړو او **سر مبارك** ئي پکښې پټ کړو او خپلي ښځي نَـوار ته ئي اُووئیل چه: ما تا له د تِولي زماني دولت راوړي دي،

اُوكْوره هٰغه دي د علي بِن حُسين سر ستا په كور كښې پروت دې.

”هغه خفه شوه او ورته ئې اُووئيل چه: **الله** دِ تا اُووهي! خلق مال و زر راوړي او تا د فرزندِ رسول **سر مبارك** راوړې دې. په خدائے مې دِ قَسَم وي! چه زه به نوره ستا سره هيڅ كله هُم نه اوسيږم.“ نَـوار دا اُووئيل او د خپلې بسترې نه پاڅيدله او كوم ځائ كښې چه **سر مبارك** تشريف فرما وو راغله د هغې خوا سره كښيناستله. د هغې بيان دې: قسم په خُدائے جَلَّ جَلَالُہٗ! ما وليدو چه يو نُور د آسمان نه مسلسل د هغه لوښي پورې د ستنې [يعني پِـلـر] په شان ځليدو او سپينې مرغۍ ترې ګيرچاپيره تاويدلـې. چه سحر شو نو خولي بِن يزيد **سر مبارك** راوخستو او اِبنِ زِياد بد كرداره له ئې يوړو.

(الكامِل فِي التَّارِيخ ج ٣ ص ٤٣٤)

بہاروں پر ہیں آج آرائشیں گلزارِ جنت کی

سُواری آنیوالی ہے شہیدانِ محبت کی

په جوبن او په ښكلا نن سپرلي دي د جَنَّت

چه سوَرلۍ دي راروانې د شهيدانِ مَحَبَّت

www.dawateislami.net

# د خَولي بِن يَزِيد دردناک انجام

د دُنيا مَحَبَّت او د مال و زر حِرص انسان ړوند او د انجام نه بې خبره كړي. بد بخته خولي بِن يَزِيد صرف د دُنيا د مَحَبَّت په وجه په كربلا كښې [د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ] **سر مُبارك** د تَن نه جُدا كړي وو. دا بدكِرداره هُم گرفتار كړې شو او د مُختار خوا ته راوستې شو، مختار اول د هغه څلور واړه لاس او ښپې كټ كړل، او آخر دا چه اور ته ئې غوزار كړو. دغسې د اِبنِ سعد د لښكر ټول شرارتيان ئې په قِسم قِسم عذابونو هلاك كړل. شپږ زره كُوفيان چه د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په قتل كښې شريك وو هغه مختار په قِسما قِسم عذابونو هلاك كړل. (سَوانِحِ كربلا ص۱۲۲)

اے تشنگانِ خونِ جوانانِ اہلبیت　　دیکھا کہ تم کو ظلم کی کیسی سزا ملی

کتوں کی طرح لاشے تمہارے سڑا کیے　　گھوڑے پہ بھی نہ گور کو تمہاری جا ملی

رُسوائے خلق ہو گئے برباد ہو گئے　　مردُودو! تم کو ذلت ہر دو سرا ملی

تم نے اجاڑا حضرت زہرا کا بوستاں　　تم خود اجڑ گئے تمہیں یہ بد دعا ملی

دنیا پرستو! دین سے منہ موڑ کر تمہیں　　دنیا ملی نہ عیش و طرب کی ہوا ملی

آخر دکھا یا رنگ شہیدوں کے خون نے　　سر کٹ گئے اماں نہ تمہیں اِک ذرا ملی
پائی ہے کیا نعیمؔ اُنہوں نے ابھی سزا
دیکھیں گے وہ جحیم میں جس دن سزا ملی

اے د اهلبيت د وِينو ترو ظالمانو　　د ظُلم څنګه درکړې شوه سزا
د سپو په شاني سخا شو ستاسو مړي　　د ګور په ځاۍ ډيران کښې شولئ سخا
رُسوائے زمانه شوئ هُم برباد شوئ　　ذِلَّت مو مُقدَّر په آخِرت هُم په دُنيا
د فاطِمه بوستان مو کړو وِيـران　　برباد شولئ پخپله د هغوئي په بَد دُعا
دُنيا پرستو دِين نه روګردان شوئ　　نه خوشحالي نه په لاس درغله دُنيا
پکار راغي آخرخُون د شهيدانو　　سرونه مو شو کټ امان درنکړلو چا
نعيم دا د دُنيا لا څه سزا ده　　جَحِيم کښې به بيا اوګورې سزا

# په نيزه د پاسه د سر مُبارک تِلاوت

د حضرتِ سَيِّدُنا زَيد بِن اَرقَم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ بيان دي: چه کله يزيديانو د حضرتِ اِمامِ عالي مُقام سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سر مبارك په نيزه کښې اوچت کړې وو او د کُوفې په کوڅو کښې ئې ګشت کولو نو هغه وخت زه د خپل مکان په پاسنۍ حِصَّه کښې ووم. چه کله سر مبارك زما په خوا تيريدو نو ما واوريدلو چه سر مُبارك دا آيت تلاوت وکړو:

www.dawateislami.net

اَمۡ حَسِبۡتَ اَنَّ اَصۡحٰبَ الۡکَہۡفِ وَ الرَّقِیۡمِ ۙ کَانُوۡا مِنۡ اٰیٰتِنَا عَجَبًا ﴿۹﴾ (پ ۱۵: سورۃ الکھف آیت ۹) مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا تا ته معلومه شوه چه د غر د غار او د ځنګل د غارِي والا زمونږه يوه عجيبه نښنه وه. (شَواهِدُ النُّبُوَّة ص۲۳۱)

هُم دغسې يو بل بزرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائيلي دي چه کله يزيديانو سر مُبارك د نيزې نه کوز کړو او د اِبنِ زِياد بد کِرداره محل ته ئې داخِل کړو، نو د سر مُبارك شونډې خوزيدلي او په ژبه مبارکه ئې دا تِلاوت جاري وو: وَ لَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰہَ غَافِلًا عَمَّا یَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ (پ ۱۳: ابراهيم ۴۲) مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او هيڅ کله هُم الله بې خبره مه ګڼړه د ظالِمانو د کار نه. (روضةُ الشُّهَداء مترجم ج ۲ ص ۳۸۵)

عبادت ہو تو ایسی ہو تلاوت ہو تو ایسی ہو
سرِ شبیر تو نیزے پہ بھی قرآں سناتا ہے

عبادت وي داسې، تِلاوت وي داسې
سرِ حُسين په نيزه هُم لوَلي قُرآن

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مِنهال بِن عَمرو وائي: وَاللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ ما په خپلو سترګو وليدل چه کله خلقو د اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ **سر مُبارك** په نيزه کښې [پورته کړې] اخستې وو هغه وخت زه "دِمِشق" کښې ووم. د **سر مُبارك مخې** ته يو سړي سُوۡرَۃُ الۡکَهۡف لوستلو چه کله هغه پينځلسم آيت ته ورسيدو:

أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ۝٩ مفهوم ترجمهٔ

كنزُالاِيمان: د غر د غار او د ځنګل د غاړې والا زمونږه يوه عجيبه نښه وه.

(پ ۱۵ : سورة الكهف آيت ۹)

هغه وخت **اللّٰه تعالیٰ سر مُبارك** ته د وئيلو قُوَّت ورکړو او [سر مُبارك] په فصيح ژبه [يعني صفا صفا] اوفرمائيل: اَعۡجَبُ مِنۡ اَصۡحَابِ الۡکَهۡفِ قَتۡلِيۡ وَحَمۡلِيۡ "د اصحابِ کَهف د واقعې نه زما قتل او زما سر اوچت اخستې ګرځول زيات عجيبه دي." (شَرۡحُ الصُّدُور ص۲۱۲)

سرِ شهيدانِ محبّت کے ہيں نيزوں پر بلند
اور اونچی کی خدا نے عزّو شانِ اہلبيت

سرونه په نيزو د شهيدانو دي اوچت
نور اوچت شو عِزَّتِ او شانِ اَهلِبَيت

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل کتاب سَوانِحِ کربلا کښې د دې حِکايت نقل کولو نه پس فرمائي: په حقيقت کښې خبره هُم دا ده څکه چه اصحابِ کَهف باندې کافرانو ظُلم کړې وو او حضرتِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ د هغوئې د نيکه مبارك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّت د ميلمه په طور را اوغوښتلو او بيا ئې دومره بې وفائي وکړه چه اوبه ئې هُم پرې بندې کړې! اٰل و اصحاب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ئې د حضرتِ اِمامِ پاك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ په مخکښې شهيدان کړل. بيا ئې پخپله حضرتِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ هُم شهيد کړو، اَهلِبَيتِ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ئې قيديان جوړ کړل، سر مُبارك ئې په ښارونو [او کوڅو] کښې وګرځولو. اصحابِ کَهف د خو خو کالو د خوب نه پس خبرې وکړې دا ضرور عجيبه خبره وه خو د بدن نه د جُدا کيدو باوجود د سر مُبارك کلام [يعني خبرې] کول ډير زيات عجيبه دي. (سَوانِحِ کربلا ص۱۱۸)

## په وِينو ليکلې شوې شعر

د يَزِيد پليد ناپاکه لښکر چه کله د شُهَدائے کَربَلا عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان

www.dawateislami.net

سرونه اخستي روان وو. په دغه موقع په يو منزل کښې ودريدل. حضرتِ سَيِّدُنا شاه عبدُ العزيز مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيۡه ليکي، هغوئي نَبِـيذ يعني د کجُورې شيره څښلو کښې مشغول شو. په يو بل رِوايت کښې دي وَهُمْ يَشْرَبُوْنَ الْخَمْرَ يعني هغوئي شراب څښلو کښې مشغول شو. په دې کښې د وسپنې يو قلم راښکاره شو او هغه [قلم] په وينه دا شعر وليکو ــ

اَتَرْجُوْ اُمَّةٌ قَتَلَتْ حُسَيْنًا شَفَاعَةَ جَدِّهٖ يَوْمَ الْحِسَابِ

(يعني آيا د حُسين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ قاتلان دا اُمّيد هُم لري چه په ورځ د قيامت به د هغوئي د نيکه مبارك صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت حاصل کړي؟)

په بعضو رِواياتو کښې دي د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِعلانِ نُبُوَّت نه ۳۰۰ کاله مخکښې دا شعر په يو کانړي ليکلې ليدلې شوې وو.

(الصواعِقُ المُحَرقة ١٩٤)

## د سر مبارک په کَرامَت د راهِب قبُولِ اسلام

يو راهِب نصراني د کِرجې (يعني چرچ) نه سرِ مُبارك وليدو نو وئې وئيل چه "تاسو بد خلق ئې، آيا چه لس زره اشرفۍ را نه واخلئ نو [په دې خبره] راضي کيدې شئ چه يوه شپه دا سر زه ځان سره

www.dawateislami.net

وساتم." هغوئي لاڅيانو قبوله کړه. راهِب سر مُبارك وينځلو، خوشبُو ئې پرې ولګوله، ټوله شپه ئې په خپل ورون کيښودې وو او ورته کتل ئې يو نُور ئې ترې پورته شوې وليدو. راهِب هغه شپه په ژړا تيره کړه، سحر ئې اسلام قبول کړو او کِرجه او مال و متاع ئې پرېښودل او خپل ژوند ئې د اَهلِبَت عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په خِدمت کښې تير کړو. (الصواعِقُ المُحَرقة ۱۹۹)

دولتِ دِیدار پائی پاک جانیں بیچ کر
کربلا میں خوب ہی چمکی دُکانِ اَہلبیت

د سر په قربانئ ئې ديدار اُوموند د مولا
کربلا کښې ښه وچليدو دُکانِ اَهلِبَيت

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دِرهَم او دِينار کودنړي جوړ شو

يزيديانو چه د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د لښکر او د هغوئي د خيمو نه کوم دِرهمونه او دِينارونه لُوټ کړي وو او کوم ئې چه د راهِب نه اخستي وو، چه کله ئې د هغې د تقسيمولو د پاره د خلتو

خُلې خلاصې کړې نو څه ګوري چه هغه ټول دِرهمونه او دِینارونه [د خاورو] کودنړي جوړ شوي وو او د هغوئي په يو طرف دا آيت ليکلې شوې وو وَ لَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۬ (پ۱۳ ابراهيم: آيت ۴۲) (مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هيڅ کله الله تعالٰی بې خبره مه ګڼړه د ظالـمانو د کار نه.) او په بل طرف ئې د دا آيت ليکې شوې وو. وَ سَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْۤا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿۲۲۷﴾ (پ۱۹، الشُّعَراء: آيت ۲۲۷) (مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او اوس به پوهه شي ظالـمان چه په کوم اړخ به اوړي.) (ايضاً ص۱۹۹)

تم نے اجاڑا حضرتِ زہرا کا بوستاں | تم خود اجڑ گئے تمھیں یہ بد دعا ملی
رُسوائے خلق ہوگئے برباد ہوگئے | مردودو! تم کو ذلت ہر دو سرا ملی

د فاطِمه بوستان مو کړو وِيـران | برباد شولئ پخپله د هغوئي په بَد دُعا
رُسوائے زمانه شوئ هُم برباد شوئ | ذِلّت مو مُقدَّر په آخِرت هُم په دُنيا

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! دا د قدرت له طرفه يو درسِ عِبرت وو، چه بدبختو! تاسو د دې فاني دُنيا د پاره د دِين نه مخ واړوو د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په آل مو بې انتها ظلمونه وکړل. ياد ساتئ! تاسو د دِين نه سخته بې پرواهي اختيار کړه او د کومې فاني دُنيا

www.dawateislami.net

حاصلولو د پاره چه مو داسې کړي وو هغه هُم په لاس در نه رغله او تاسو د "خَسَرَ الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَۃ" (يعني په دُنيا کښې هُم نقصان او په آخِرت کښې هُم د نقصان) حقدار وګرځيدئ. ؎

سر کٹے کُنبہ مرے سب کچھ لُٹے　　دامنِ احمد نہ ہاتھوں سے چھٹے

دُنيا پرستو دِين نه روګردان شوئ　　نه خوشحالي نه په لاس درغله دُنيا

تاريخ ګواه دې چه مسلمانانو کله هُم عملاً دا فاني دُنيا د دِين نه غوره کړې ده نو دا بې وفا دُنيا ئې هُم د لاسه تلې ده او چا چه دې فاني دُنيا ته شا کړې ده او د قُرآن او سُنَّت په احکامو مضبوط قائم اوسيدلي دي او د دِين او اِيمان نه ئې مخ نه دې اړولې بلکه په خپل کردارا و عمل ئې دا ثابته کړې ده چه. ؎

وہ کہ اس در کا ہوا خلقِ خدا اُس کی ہوئی
وہ کہ اِس در سے پھرا اللّٰہ اُس سے پھر گیا

مال و سر او زما ټول کور دِ قربان شي

لا ړ دِ نه شي زما د لاسه خوږ نِسبت د مُحَمَّد

www.dawateislami.net

نو دُنیا لاس ترلـي په هغوئي پسې روانه شوه او هغوئي په دوارو جهانو کښې کامیاب شو.ـه

کس شقی کی ہے حکومت ہائے کیا اندھیر ہے
دِن دہاڑے لُٹ رہا ہے کاروانِ اہلبیت

خوك چه شو د هغه دَر، خلق هُم شو د هغه
چا چه پريښود هغه دَر، هغه پريښودو الله

## سر مُبارک چرته دَفَن شو ؟

د اِمامِ عالي مُقام حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د سر مُبارك د دفن کيدو په باره کښې اِختِلاف دې. علامه قُرطُبي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه او حضرتِ سَيِّدُنا شاه عبد العزيز مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه يَزِيد د کربلا قيديان او سر مُبارك مدينهٔ مُنَوَّره ته وليږل او په مدينهٔ مُنَوَّره کښې د تجهِيز و تکفِين [يعني د کفن ورکولو وغيره] نه پس سر مُبارك په جَنَّتُ البَقِيع شريف کښې د حضرتِ سَيِّدَتُنا فاطمةُ الزَّهرا رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا يا حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حسن مُجتَبٰی رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خوا کښې دَفَن کړې شو. بعضې وائي چه د کربلا قيديان [يعني اهلبيت] خلويښت ورځې پس کربلا ته راغلل او سر مُبارك ئې د بدن مُبارك

www.dawateislami.net

سره يو ځائ کړو او دفن ئې کړو. بعضې وائې چه يَزِيد حُکم کړې وو چه د "اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ **سر مُبارك** په ښارونو کښې وګرځوئ." ګرځولو والا چه کله **عَسقَلان** ته ورسيدل نو د هغه ځائ امير د هغوئې نه واغستو او دَفَن ئې کړو. چه کله په عَسقَلان باندې د فِرنګيانو غَلَبه وشوه نو طلائع بن رَزِّيك چه هغه ته صالِح وئيلې کيږې هغه فرنګيانو ته **ديرش زره دِيناره** ورکړل او د **سر مُبارك** ورلو اجازت ئې ترې واخستو او سره د فوج او خادِمانو ئې ښبې ابلې ښپې د هغه ځائ نه په ۸ **جمَادَی الۡاُخۡرٰی** سن ۵۷۸ھ د اتوار په ورځ مصر ته راوړو. **هغه وخت هُم د سر مُبارك وِينه تازه وه او د مُشکو په شان خوشبو ئې کوله.** بيا ئې هغه د شنو وريښمنو په خلته کښې په آبنوسي کُرسئ باندې کيښودو او د هغې د وزن هُمره مُشك او عنبر او خوشبو ئې ترې لاندې او ګيرچاپيره کيښودل او په هغې ئې **مَشۡهَدِ حُسينی** جوړ کړو. چنانچه د خان خليلي خوا ته **مَشۡهَدِ حُسينی** مشهور دې. (شامِ کربَلا ص ۲٤٦)

کس شقی کی ہے حکومت ہائے کیا اندھیر ہے

دِن دہاڑے لُٹ رہا ہے کاروانِ اہلبیت

www.dawateislami.net

د كوم شقي حكومت دې څه تورې تِيارې دي

په رنړا ورځ لُوټې كيږي كاروانِ اَهلِبَيت

# د سر مُبارک د قبر زيارت

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عبد الفَتَّاح بن اَبِي بَكر بن احمد شافِعِي خلوتي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه په خپله رِساله ”نُورُ العَين“ كښې نقل كوي چه: شيخُ الاسلام شمسُ الدِّين لقاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه چه د خپل وخت د مالكيانو شيخُ الشُّيوخ وو، هغوئي به هميشه په مَشهَد مبارك كښې د **سر مُبارك** زيارت ته حاضريدلو او فرمائيل به ئې چه د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ **سر مُبارك** په هُم دې مقام كښې دې. حضرتِ سَيِّدُنا شيخ شهابُ الدِّين حَنَفِي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: ما د **مَشْهَدِ حُسينی** زيارت وكړو خو ما ته شُبه وه چه **سر مُبارك** په هُم دې مُقام دې او كه نه؟ ناڅاپه اُوده شوم، په خوب كښې مې وليدل چه يو كس د نقيب [يعني څوكۍ كوونكي] په صورت كښې د **سر مُبارك** د خوا نه را اووتو او د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حُجره مباركه كښې حاضر شو او عرض ئې وكړو، ”يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم احمد بن حلبي او عبد الوهَّاب ستاسو د شهزاده اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د **سر مُبارك** د

www.dawateislami.net

مَدفَن [يعني د خخيدو د ځائ] زيارت وکړو." حُضورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: 'اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْهُمَا وَاغْفِرْ لَهُمَا'. يا الله د هغه دواړو زيارت قبول کړې او د دواړو بخښنه وکړې. حضرتِ سَيِّدُنا شيخ شهابُ الدِّين حَنَفي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه د هغه ورځې نه زما يقين وشو چه د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ عالي مُقام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه سر مُبارك هُم دلته تشريف فرما دې، بيا مې ټول عُمر د سر مُبارك زيارت نه دې پريښودې. (شامِ کربلا ص۲٤۷)

ان کی پاکی کا خدائے پاک کرتا ہے بیاں

آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اہلبیت

پاکـي ده بيان کړي د هغوئي خُدائے پاك

دې آيهٔ تطهِير کښې ظاهر شانِ اَهلِبَيت

## د سرِمُبارک نه د سلام جواب

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ خليل اَبِى الـحسن تمارسي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به چه کله د سر مُبارك د زيارت د پاره د مَشهَدِمُبارك خوا ته حاضريدو نو عرض به ئې کولو: 'اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اِبْنَ رَسُوْلِ الله' او فوراً به ئې جواب اوريدو: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا اَبَا الْحَسَن. يوه ورځ د سلام جواب

رانغلو، حيران شو او د زيارت كولو نه پس بيرته لاړو. صبا له بيا حاضر شو او سلام ئې وكړو نو جواب ئې واوريدو. عرض ئې وكړو، يا سيِّدي! پرون مو د جواب شرف رانكړو څه وجه وه؟ وئې فرمائيل: اے اَبُوالـحسن! پرون هغه وخت زه د خپل نيكه مبارك رَحمَتِ عالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ اَقدس كښې حاضِر ووم او په خبرو كښې مشغول ووم. (شامِ كربلا ٢٤٧)

جدا ہوتی ہیں جانیں جسم سے جاناں سے ملتے ہیں
ہوئی ہے کربلا میں گرم مجلس وصل و فرقت کی

د بدن نه رُوح روان دې پاك الله ته نزدې كيږي
كربلا كښې لګيدلې نن بازار د جُدائي او د قُربت

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام عبدُ الوَهَّاب شَعراني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: اَهلِ كَشف صُوفيا د دې هُم دې قائل دي چه د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ سر مُبارك په هُم دې مقام كښې دې. شيخ كريمُ الدِّين خلوتي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه ما د رَسُولُ‌الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اجازت د هغه مُقام زيارت كړې دې. (ايضاً ص٢٤٨)

www.dawateislami.net

اسی منظر پہ ہر جانب سے لاکھوں کی نگاہیں ہیں
اسی عالم کو آنکھیں تک رہی ہیں ساری خلقت کی

تولې سترګې نن هُم دې منظر ته ګوري
حیران ګوري تول چشمان په دې لوري د خلقت

## د سر مُبارک عجیبه بَرَکت

منقول دي چه، د مِصر سُلطان "ملك ناصِر" ته د یو کس مُتَعَلِّق اطلاع ورکړې شوه چه دې کس ته معلومه ده چه په دې محل کښې خزانه کوم ځائ کښې خخه ده خو ځائ نه ښائي. سُلطان د هغه نه د راز معلومولو د پاره هغه ته د تعذِیب یعني تکلیف ورکولو حُکم وکړو. مُتَوَلِّيِّ تَعذِیب (یعني د عذاب د پاره مُقرَّر کس) هغه ونیولو او په سر ئې ورته **خَنَافِس** (د غوشانو تور ګونګټان) واچول او په هغې د پاسه ئې **قِرمِز** (یعني یو قِسم د وریښمنو [د چینجو پها شان] خزنده) واچول او کېږه ئې پرې وتړله. دا هغه خوفناك تکلیف دې چه څوك ئې یو مِنَټ هُم نه شي برداشت کولې، په دماغو ئې سخت تکلیف شي او فوراً راز ښکاره کړي. او که نه ئې

ښائي نو يو څو مِنَټه پس په ارغښتو ارغښتو مړ شي. دا سزا هغه کس ته ډير ځله ورکړې شوه خو په هغه هيڅ اثر ونشو بلکه هر ځله به خَنافِس [ګونګټان] مړه کيدل. خلقو ترې د دې د سبب تپوس وکړو نو هغه اُووئيل چه کله د حضرتِ اِمامِ عالي مُقام، سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سر مُبارك دلته مِصر ته تشريف راوړې وو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما هغه په عقيدت په خپل سر د پاسه کيښودې وو دا د هغې بَرَکت او ګرامت دې. (شامِ کربلا ص۲٤۸)

پھول زخموں کے کھلائے ہیں ہوائے دوست نے
خون سے سینچا گیا ہے گل ستانِ اہلبیت

ګُلونه د زخمونو ئې سپړدلي کربلا کښې دي
په وينو آباد شوې ګُلستانِ اَهلِبَيت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تکليف ورکونکي خزنده څه دي؟

معلومه شوه چه مُتَبَرِّك څيز په عقيدت سره په سر د پاسه کيښودل د دواړو جهانو د پاره د سعادت خبره ده. په دې حِکايت

www.dawateislami.net

کښې د راز راښکاره کولو د پاره استعمال شوو خزندوو تذکِره ده د دې په باره کښې عرض دې چه: چه خَنافِس د خُنفَسا جمع ده، دا په کَندکَئ او غوشانو کښې پیدا کیدو والا تور د دوو ښکرو والا یو خزنده وي. [په پښتو کښې ورته ګونګټې وائي]. او قِرمِز د ورېې چنړې هُمره د سور رنګ د وریښمنو د چینجي په شان یو [وړوکې] خزنده وي او د اعام طور د بارانه په موسم کښې په ځنګلو کښې پیدا کیږي. هغه وچ کړې شي او د وریښمنو رنګ کولو سور رنګ ترې جوړوي. د دې نه دوائي هُم جوړیږي او تیل هُم ترې اُوباسي. په هغه زمانه کښې به مُلزمانو ته د جُرم د اِعتِراف کولو د پاره په دې طریقه تکلیف ورکولې کیدو. په سر باندې به ئې ورته اول **خَنافِس** (یعني د غوشانو ګونګټان) کیښودل او د پاسه به ئې پرې **قِرمِز** واچول او پرې وبه ئې تړل. ګونګټانو به ئې په چیچلو چیچلو په سر کښې سوري وکړل، په هغه سورو کښې به د **قِرمِز** ټُکړې او د هغې لـمدوالې وغیره داخل شو او د هغې په وجه به د دِماغو رګونه وشلیدل، دا به داسې ناقابِلِ برداشت سزا وه چه مُلزِم به فوراً د خپل جُرم اعتِراف کولو، په دې خوفناك دُنیاوي تکلیف کښې د آخِرت د عذاب یاد دې، آه! چه په مونږ کښې څوك د دې چینجو تکلیف د یو سیکنډ

www.dawateislami.net

د پاره نه شو برداشت کولې نو په قبر او جَهنَّم کښې به د مارانو او لړمانو چیچل څنګه برداشت کړې شو! خدانخواسته که چرې په یوه وړه شان ګناه کښې ګرفتار شو او بِالفرض یو لړم راته په سر کینبودې شو نو څه به کوو!

ڈنک مچھر کا بھی مجھ سے تو سہا جاتا نہیں
قبر میں بچھو کے ڈنک کیسے سہوں گا رب

عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
یہ کرم ہو گا تو جنت میں رہوں گا یا رب

لشه د ماشي هُم زه نه شمه برداشت کولې
قبر کښې څنګه لړمان به زه برداشت کړم یا رب

راکړه مُعافي هُم راضي شه همیشه لپاره
دا کرم وکړه نو جنَّت ته به لاړ شم یا رب

## د سر مُبارک ځلیدل

یو رِوایت کښې دي چه **سر مُبارک** د یزیدِ پلید په خزانه کښې وو.

چه کله د بنو اُمَیَّه بادشاه سُلیمان بن عبدُ المَلِك دورِ حکومت (۹۶ھ

www.dawateislami.net

نه ۹۹ھ پورې) راغې او هغوئې ته معلومه شوه نو هغوئې د سر مُبارك د زیارت کولو سعادت حاصل کړو، هغه وخت د سر مُبارك هډوکې د سپینو زرو په شان ځلیدل، هغوئې پرې خوشبو ولګوله او کفن ئې ورکړو او د مسلمانانو په آدِیره کښې ئې دفن کړو. (تَهذِیبُ التَّهذِیب ج۲ ص۳۲۶ دار الفکر بیروت)

چہرے میں آفتابِ نبوت کا نور تھا
آنکھوں میں شانِ صولتِ سرکارِ بُوتراب

په مخ کښې د حُسین وو نُور د خوږ آقا
د سترګو دبدبه ئې وه په شان د مُرتضٰی

## د رضائے مُصطَفیٰ ﷺ راز

حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ حَجَر هَیتمي مکِّي رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه رِوایت نقل کوي چه سُلیمان بن عبد المَلِك په خوب کښې د جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دیدار شرف حاصل کړو، په خوب کښې حُضُور اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئې [یعني د سُلیمان بن عبد المَلِك] سره مُلاطَفَت (یعني مهرباني او کرم) فرمائې. سحر هغوئې د حضرتِ

سَیِّدُنا حسن بَصري رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه د دې خوب د تعبِیر تپوس وکړو، هغوئي اُوفرمائيل: شايد تاسو د اٰلِ رسول سره څه ښيګړه کړي ده. عرض ئې وکړو، آو جي! ما د حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ عالي مُقام اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ **سر مُبارك** د يزيد په خزانه کښې اُوموندلو نو هغې ته مې د ورېښمو کپړو کفن واغوستو او د خپلو ملګرو سره مې د هغې لـمونځ [يعني جنازه] وکړه او دفن مې کړو. حضرتِ سَیِّدُنا حسن بصري رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائيل چه: ستا هُم دا عمل د **الله** تعالٰی د محبُوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا سبب جوړ شوې دې. (اَلصَّواعِقُ المحرِّقة ص ۱۹۹)

مصطفٰے عزت بڑھانے کے لئے تعظیم دیں
ہے بلند اقبال تیرا دودمانِ اہلبیت

مُصطَفیٰ د پاره د عِزَّت درکړې دې تعظِيم
ډير اوچت قِسمت لرئ اے خاندانِ اَهلِبَيت

# د مختلفو مُشاهَدو وَضاحَت

خَطِيبِ پاکستان حضرتِ مولانا الحاج الحافِظ محمد شفيع اوکاړوي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل تالِيف "شامِ کربلا" کښې ليکي: د سر

www.dawateislami.net

مُبارك په باره كښ مختلف رِوايات دي او په مختلفو مُقاماتو مُشاهَد[1] جوړ شوي دي نو دا هُم كيدې شي چه د دې رِواياتو او مُشاهَدو تعلق د يو څو سرونو سره وي ځكه چه يَزِيد ته د ټولو شُهَدائے اَهلِبَيت عَلَيهِمُ الرِّضوَان سرونه ليږلي شوي وو نو ځيني سر يو ځائ او ځيني سر بل ځائ خخ شوې وي. او نِسبت د حُسنِ عقيدت په وجه يا په بله څه وجه صرف حضرتِ اِمامِ حُسين رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته شوې وي. وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ بِحَقِيقَةِ الْحال. (شامِ كربلا ص۲٤۹)

## د بخښني نه د مايوسۍ لړزوونكي حِكايت

حضرتِ سَيِّدُنا ابو محمد سُليمان الاعمش كُوفي تابِعي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: زه د بيتُ الله شريف د حج د پاره حاضر شوم، د طواف په دوران كښ مې يو كس وليدو چه غِلافِ كعبه پورې نخښتي دي او وائي: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! ما اُوبخښې او زه ګمان كووم چه ته به ما نه بخښې". زه د هغه په دې عجيبه شان دُعا باندې حيران شوم چه سُبْحٰنَ اللّٰهِ الْعَظِيْم آخر ده داسې څه ګُناه كړې ده چه د هغې د بخښني اُميد نه

[1] د مَشهَد جمع مَشاهَد ده. د مَشهَد يوه معنٰى دا هُم ده: د حاضرويدو ځائ.

www.dawateislami.net

لري خو زه په طواف کښې مصروف اوسیدم. په دویمه پیره مې بیا واوریدل نو هغه هُم دا وئیل، زه نور حیران شوم. چه د طواف نه فارِغ شوم نو هغه ته مې اُووئیل چه: ته په داسې عظیم ځائ کښې ئې چه دلته د غټې نه غټه ګناه هُم مُعاف کیږي، نو که ته د **الله** تعالیٰ نه مغفِرت او رَحمت غواړې نو د هغه نه اُمِّید هُم ساته ځکه چه هغه ډیر زیات رحیم او کریم دې. هغه کس اُووئیل: اے د **الله** بنده ته څوك ئې؟ ما اُووئیل: زه سُلیمان اَلاَعمَش یم رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ ! هغه زما لاس ونیوو او یوې ډډې ته ئې بوتلم او وئې وئیل: زما ګُناه ډیره غټه ده. ما ورته اُووئیل: آیا ستا ګُناه د غرونو، آسمانونو، زمکو او عرش نه هُم غټه ده؟ هغه اُووئیل: آو زما ګناه ډیره زیاته غټه ده! افسوس! اے سُلیمان! زه د هغه اویاؤ بد نصیبو کسانو نه یو کس یم چا چه د حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ عالي مُقام اِمامِ حُسین رضی اللہ تعالیٰ عنہ **سر مُبارك** یزید پلید له راوړې وو. یزید پلید هغه **سر مُبارك** د ښار نه بهر د زوړندولو حُکم وکړو. بیا د هغه په حُکم راکوز کړې شو او د سرو زرو په لوښي کښې د هغه د اُوده کیدو په کوټه کښې کیښودې شو. نیمه شپه د یزیدِ پلید د ښځې سترګې وغړیدې نو څه ګوري چه د **اِمامِ عالي مُقام** رضی اللہ تعالیٰ عنہ **د سر مُبارك نه واخله د آسمانه پورې یوه نُوراني پلوشه ځلیږي!** هغه سخته وَیَریدله او یزیدِ پلید ئې راویښ

www.dawateislami.net

کړو او ورته ئې اُووئیل چه پاځه زه یو عجیبه منظر وینم، یزید هُم هغه رنړا ولیدله او د خاموشي اختیارولو حُکم ئې وکړو. چه سحر شو نو هغه [یعني یزید] هغه **سر مُبارك** راویستلو او د شنې دِیبا (یعني د یو ښه قِسم کپړې) په خیمه کښې ئې کیښودو او د هغې د حِفاظت د پاره ئې اویا سړي مقرر کړل، زه هُم په هغوئې کښې شامل ووم. بیا مونږه ته حُکم وکړې شو چه لاړ شئ طعام اُوخورئ بیا راشئ. چه نمر پریوتو او کافي شپه تیره شوه نو مونږه اُوده شو. ناڅاپه زما سترګې وغړیدې، څه ګورم چه په آسمان کښې یوه غټه ورِیَځ خوره شوي ده او د هغې نه د ګړزیدو او د وزرو د پریدو په شان آوازونه راځي بیا هغه ورِیَځ نزدې راغله وه تردې چه د زمکې سره ولګیده او د هغې نه یو سړې را اُووتلو، هغه د جَنَّت دوه جوړې اغوستي وې او د هغه په لاس کښې یو فرش او کُرسئ وې. هغه، هغه فرش خور کړو او کُرسئ ئې پرې ولګولې او آواز ئې وکړو: **اے اَبُو البَشَر! اے آدم** عَلَیْهِ السَّلَام **تشریف راوړئ.** نو ډیر زیات ښکلي او ښائسته بزرګ تشریف راوړو او د **سر مُبارك** خوا ته ودریدلو او وئې فرمائیل: ”سلام دِ وي په تا اے د الله وَلِي! سلام دِ وي په تا اے بَقِیَّةُالصَّالِحِین! ژوندې وې ته سعید، قتل کړې شوې ته طرید یعني خلف شوې، تنده دِ تیره کړه تر دې چه الله تعالٰی

زمونږ سره يو ځائ کړي. اللّٰه تعالیٰ دِ په تا رحم اُوفرمائي او ستا د قاتِل د پاره بخښنه نشته، ستا د قاتل د پاره صبا په ورځ د قيامت د دوزخ ډير بد ځائ دي.“

دا ئي اُوفرمائيل او د هغه ځائ نه لرې شو او په هغه کُرسو کښې په يوه کُرسئ تشريف فرما شو. بيا لږ ساعت پس يوه بله ورِيَځ راغله، هغه هُم هغسې د زمکې سره ولګيده او ما واوريدل چه يو مُنادِي [يعني غږ کوونکي آواز] وکړو: **اے نَبِيَّ اللّٰه! اے نُوح** عَلَيۡهِ السَّلَام **تشريف راوړئ.** ناڅاپه يو صاحِبِ وجاهَت [يعني رُعب لرونکي] بُزرګ تشريف راوړو چه د مخ مُبارك رنګ ئي زيړ غوندې وو او دوه جَنَّتي جامې ئي اغوستي وې. هغوئي هُم هغه الفاظ اُووئيل او په يوه کُرسئ کښيناستلو. بيا يوه بله غټه ورِيَځ راغله او د هغې نه **حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ اللّٰه** عَلَيۡهِ السَّلَام راښکاره شو، هغوئي (عَلَيۡهِ السَّلَام) هُم هغه کَلِمات اُوفرمائيل او په يوه کُرسئ کښيناستلو. هُم دغسې **حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ کليمُ اللّٰه** عَلَيۡهِ السَّلَام او **حضرتِ سَيِّدُنا عِيسیٰ** عَلَيۡهِ السَّلَام هُم تشريف راوړو او هُم دغسې کَلِمات ئي ارشاد اوفرمائيلو او په کُرسو کښيناستل. بيا يوه ډيره غټه ورِيَځ راغله، د هغې نه **حضرتِ سَيِّدُنا و مولانا مُحَمَّد مَدَني** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او حضرتِ سَيِّدَتُنا بي بي **فاطِمه** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهَا او حضرتِ سَيِّدُنا **حسن مُجتبیٰ** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهُ او **فرښتې**

www.dawateislami.net

رابنکاره شوې. اول خوږ مَدَنــي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سر مُبارك خوا ته تشريف يوړو او سر مُبارك ئې خپلې سينې مُباركې ته ولګولو او ډير ئې وژړل. بيا ئې حضرتِ سَيِّدَتُنا بي بي فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا ته ورکړو، هغې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا هُم خپلې سينې ته ولګولو او ډير ئې وژړل. بيا حضرتِ سَيِّدُنا آدم صَفِـيُّ الله عَلَیْہِ السَّلَام د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا ته تشريف راوړو او داسې تعزِيَّت ئې وکړو:

اَلسَّلَامُ عَلَى الْوَلَدِ الطَّيِّبِ، اَلسَّلَامُ عَلَى الْخَلْقِ الطَّيِّبِ،
اَعْظَمَ اللهُ اَجْرَكَ وَاَحْسَنَ عَذَاءَكَ فِيْ اِبْنِكَ الْحُسَيْنِ

سلام دِ وي په پاکِيزه فِطرت او خصلت والا پاك فرزند باندې، الله دِ تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ډير زيات ثواب درکړي او ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شهزاده حُسين (په دې امتحان) کښ دِ اَحسَن يعني بهترين صبر درکړي.

هُم دغسې **حضرتِ سَيِّدُنا نُوح** عَلَیْہِ السَّلَام **حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام **حضرتِ سَيِّدُنا مُوسىٰ كليمُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام او **حضرتِ سَيِّدُنا عيسىٰ رُوحُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام هُم تعزِيَّت وکړلو. بيا د دواړو جهانو سردار، د مدينې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو څو کَلِمات اِرشاد اُوفرمائيل. بيا يوه فرښته د حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا ته راغله او عرض ئې

www.dawateislami.net

وکړو، اے **ابو القاسِم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (دي دردناکي واقعي سره) زمونږه زړونه ټکړې ټکړې شو. زه د آسمانِ دُنیا مُوَکَّل[1] یم. **اللہ** تعالیٰ ما ته ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ حُکم راکړې دې. که تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم وکړئ نو په دې خلقو به آسمان راپریباسم او تباه او برباد به ئې کړم. بیا یوه بله فرښته راغله او عرض ئې وکړو، **اے ابو القاسِم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه په دریابونو باندې مُوَکَّل یم، **اللہ** تعالیٰ ما ته ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ حُکم راکړې دې. که تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم وکړئ نو زه به په دوئي طوفان راولم او تباه او برباد به ئې کړم. سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: اے فرښتو! داسې کولو نه قلار شئ. حضرتِ سَیِّدُنا حسن **مُجتبیٰ** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ (د اُودو خوکیدارانو طرف ته اِشاره وکړه او بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې ئې) عرض وکړو، خوږه بابا جانه! دا چه اُوده دي، هُم دا هغه خلق دي چا چه زما د ورور (حُسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) **سر مُبارك** راوړې دې او هُم دوئي په نګرانئ باندې هُم مقرر دي. نو نبِیِّ پاك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: "اے زما د **رَبُّ الْعِزَّت** جَلَّ جَلَالُہٗ فرښتو زما د ځوئ د قتل

[1] فرښته چه په کوم کار مقرره وي، ساتونکې، ذمّه دار، **محافِظ**.

www.dawateislami.net

په بدله كښې دوئي قتل كړئ.“ نو قسم په خُدائے! ما وليدل چه په لږ ساعت كښې زما ټول ملګري قتل كړې شو. بيا يوه فرښته زما د حلالولو د پاره زما طرف ته رامخكښې شوه نو ما غږ وكړو، اے ابو القاسِم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما بچ كړئ او په ما رحم وكړئ الله تعالىٰ دِ په تاسو رحم وكړي. نو حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرښتې ته اُوفرمائيل: دې پريږدئ، بيا حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما خوا ته تشريف راوړو او وئې فرمائيل: ته د هغه اويا كسانو نه يو ئې چا چه سر راوړې وو؟ ما عرض وكړو، آو جي! پس هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارك زما اُوګه كښې واچولو او زه ئې پرمخې راغوزار كړم او وئې فرمائيل: ”**الله تعالىٰ دِ په تا رحم ونكړي او تا دِ ونه بخښي، الله تعالىٰ دِ ستا هډوكي د دوزخ په اور كښې وسيزي.**“ نو دا وجه ده چه زه د الله تعالىٰ د رَحمت نه نا اُميده يم. حضرتِ سَيِّدُنا اَعمَش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه دا واوريدل نو وئې فرمائيل: اے بدبخته! زما نه جُدا شه چرې ستا په وجه په ما هُم عذاب نازِل نه شي. (شامِ كربلا ص۲۶۷ تا ۲۷۰)

باغِ جنت چھوڑ کر آئے ہیں محبوبِ خدا
اے زہے قسمت تمہاری کشتگانِ اہلبیت

باغ د جَنَّت ئي پرېښودو او راغلو محبوبِ خُدا
خومره غټ قِسمت لرئ اے شهيدانِ اَهلِبَيت

# حُبِّ جاه و مال

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حُبِّ جاه و مال [يعني د مال او دُنياوي عِزَّت مَحَبَّت] ډېر بد مصيبت دي. زمونږ د خوږ خوږ آقا مكّـى مَدَنـى مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دي: "دوه وږي شرمښان چه د چيلو [د بزو] په رمه كښې پرېښودې شي هغوئي دومره نقصان نه رسوي خومره چه د مال او مرتبې لالچ د انسان دِين ته نقصان رسوي." (تِرمِذِی،ج٤،ص١٦٦ حديث٢٣٨٣)

يزيد پليد د مال و عِزَّت د مَحَبَّت په وجه د كربلا د دردناكې واقعې باعث جوړ شو. هغه ظالِم، بد انجامه د اِمامِ عالي مُقام حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ذات مُبارك نه خپل اَقتِدار [يعني حكومت] ته خطره محسوسوله. حالانكه حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د فاني دُنيا د اِقتِدار سره څه عرض لرلو! هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خو مخكښې هُم د اُمَّتِ مُسلِمه د زړونو تاجدار وو او اوس هُم دي او تر قيامته پورې به وي. ؎

www.dawateislami.net

نہ ہی شمر کا وہ ستم رہا، نہ یزید کی وہ جفا رہی

جو رہا تو نامِ حسین کا جسے زندہ رکھتی ہے کربلا

پاتې نه شو د شِمر او د یزید ظُلم و جَفا

د حُسين نوم دې ژوندې چه يادوي ئې کربلا

## د يزيد عبرتناک مرګ

د حضرتِ سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه مُرسلاً رِوايت دې چه: 'حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ' يعني د دنيا مَحَبَّت د هرې بدۍ جرړه ده.

(اَلجامِعُ الصَّغِير للسيوطى ص٢٢٣ حديث ٣٦٦٢ دارالكتب العلمية بيروت)

د يزيد په زړه کښې د دې فاني دُنيا ډير زيات مَحَبَّت وو ځکه هغه د شُهرت او اِقتدار په حِرص کښې اخته شو. د خپل انجام نه غافِله شو او د اِمامِ عالي مُقام او د هغوئي د ملګرو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په وِينو ئې ناحقه خپل لاسونه سره کړل. د کوم اقتدار د پاره چه هغه په کربلا کښې د ظُلم و سِتم اِنتِها کړې وه هغه اِقتِدار د هغه د پاره ډير ناپائيداره ثابِت شو. بد نصيبه يزيد صرف درې کاله او شپږ مياشتې په تختِ حکومت باندې شيطنَت (يعني شرارت او خباثت) وکړو او

www.dawateislami.net

په رَبِيعُ الْاَوَّل شريف سن ٦٤ھ کښې د شام د ښار ”حَمص“ په علاقه حُوّارين کښې د ۳۹ کالو په عمر کښې مړ شو. (الکامل فی التّاریخ ج۳ ص٤٦٤ دار الکتب العلمیة بیروت)

د يزيد پليد د مرګ يو سبب دا هُم بيانيږي چه هغه د يوې رومي جينئ په عِشق کښې ګرفتار شو، خو هغه جينئ به په زړه کښې د هغه نه نفرت کولو. يوه ورځ هغې د بدکارئ په بهانه يزيد لرې يوې شړې ته يواځې را اُوغوښتو. د هغه ځائ ځو هواګانو يزيد بد مسته کړو. هغه جينئ اُووئيل چه کوم بې غيرته د خپل نبي د نمسي سره وفا ونکړې هغه به زما سره څه وفا وکړي او خنجر ئې راويستو او زر زر ئې يو څو ګُزاره اُووهو او غار غار ئې کړو او په هُم ځائ ئې پروت پريښودو. يو څو ورځې قارغانو او مارغانو د هغه غوښې اُوخوړې. نشيان لوفران درباريان ورپسې ګرځيدل. آخر دا چه پيدا ئې کړو او د هغه سخا بدبوداره مړي له ئې يوه کنده وکنستله او هُم هلته ئې په خاورو کښې ډوب کړو. (اوراقِ غم ص٥٥٠)

وہ تخت ہے کس قبر میں وہ تاج کہاں ہے؟
اے خاک بتا زورِ یزید آج کہاں ہے؟

www.dawateislami.net

هغه تخت دې په کوم قبر کښې هغه تاج څه شو؟

اے خاورو اُووائې د يزيد هغه راج څه شو؟

## د اِبنِ زِياد دردناک انجام

د يزيدِ پليد هغه فسادي ډله چا چه په ميدانِ کربلا کښې د ګُلشنِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَدَنـي ګُلونو مُبارکې وِينې په خاورو کښې ګډې کړې وې. د هغوئې هُم ډېر عبرتناك انجام وشو. د يَزِيد نه پس د ټولو نه غټ مُجرِم د کُوفې ګورنر عُبَيدُالله اِبنِ زِياد وو. د هُم دې بدکِرداره په حکم په اِمامِ عالي مُقام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او نورو اهلبيتِ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان باندې ظُلم او سِتَم شوې وو. د دُنيا دوکې ته اُوګورئ چه د مُختار ثقفي جوړ کړو د اِبراهيم بِن اَشتر د عسکرو د لاسه صرف شپږ کاله پس يعني لسم مُحَرَّمُ الْحَرَام سن ٦٧ھ کښې اِبنِ زِياد بدکِرداره په ډېر زيات ذليله مرګ مړ کړې شو! لښکريانو ترې سر غوڅ کړو او ابراهيم ته ئې ورواندې کړو او اِبراهِيم کُوفې ته مختار له وليږو. (سَوانِحِ کربلا ص۱۲۳ مُلَخَّصاً)

جب سرِ محشر وہ پوچھیں گے بلا کے سامنے

کیا جوابِ جرم دو گے تم خدا کے سامنے

www.dawateislami.net

چه تپوس درنه په ورځ د محشر وشي

څه جواب به ورکوې وايه الله ته

## د اِبنِ زِياد په پوزه کښې مار

دار الامارت کُوفه ښائيسته کړې شوه او په کوم ځائې چه شپږ کاله مخکښې د اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ **سر مُبارك** اينبودې شوې وو په هُم هغه ځائې باندې د اِبنِ زِياد **ناپاکه سر** هُم کيښودې شو. په دې بدنصيبه پسې څوك ژړيدو والا هُم نه وو بلکه په مرګ ئې خلقو خوشحالياني کولې. (سَوانِحِ کربلا ص١٢٣) په صحيح حديث کښې د عِماره بِن عُمير نه رِوايت دې چه کله د عُبَيدُ الله بن زياد سر د هغه د ملګرو د سرونو سره راوړې شو او کيښودې شو نو زه هلته ورغلم. ناڅاپه شور جوړ شو "راغې راغې." څه ګورم چه يو مار راروان دې، [هغه مار] د ټولو سرونو په مينځ کښې تير شو او د اِبنِ زِياد په (ناپاکه) سپيږمو کښې داخل شو، لږ ساعت پکښې دننه وو بيا لاړ تر دې چه غائب شو. بيا شور جوړ شو، "راغې راغې."، دوه يا درې ځله هُم دغسې وشو. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج٥، ص٤٣١ حديث٣٨٠٥ دارالکتب العلمية بيروت)

www.dawateislami.net

اِبنِ زِیاد، اِبنِ سعد، شِمر، قیس اِبنِ اشعَث کِندي، خولي اِبنِ یزید، سنان اِبنِ اَنَس نخعي، عبدُالله اِبنِ قَیس، یزید بِن مالك او نور ټول بدبخته کسان کوم چه د حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ عالي مُقام رضی اللہ تعالٰی عنہ په قتل کښ شریك وو یا کوشش کوونکي وو هغه ټول په قِسما قِسم تکلیفونو قتل کړې شو او د هغوئې په مړو وجودونو اسونه وخیژولې شو. (سَوانِحِ کربلا ص۱۵۸)

کب تلک تم حکومت پہ اتراؤ گے
کب تک آخر غریبوں کو تڑپاؤ گے
ظالمو! بعد مرنے کے پچھتاؤ گے
تم جہنم کے حق دار ہو جاؤ گے

تر څو به په حکومت فخر کوئ
او تر څو به غریبان حلالوئ
پس د مرګه به پښیمانه ئې ظالمانو
په زړا به جَهنَّم طرف ته ځئ

## د بدو انجام بد وي

مُختار ثَقفي ټول یزیدیان ختم کړل. ظالمان څه خبر وو چه د شهیدانو وِینه به رنګ راوړي او حکومت به مو ټکړې ټکړې کیږي او چه څوك څوك د اِمامِ حُسین رضی اللہ تعالٰی عنہ په قتل کښ شریك وو هغه ټول به په قِسماقِسم عذابونو هلاك کیږي، [خبر نه وو چه] هُم

هغه د فرات غاړه به وي، هُم هغه د عاشُورې ورځ به وي، هُم هغه د ظالـمانو قوم به وي او د مختار اسونه به ئې پرې د پاسه خيژي او د هغوئي ګنړ شمير ډلې به پکار رانشي، [خبر نه وو چه] بنپې او لاسونه به ئې پريك کيږي، کورونه به ئې لوټ کيږي، زندئ کيږي به، مړي به ئې سخا کيږي او په دُنيا کښ به پرې هر کس تُف کوي او په هلاکت به ئې خوشحالئ کيږي. د جنګ په ميدان کښ به اګرچه د زړګاؤ په شمير کښ وي خو هِمَّت به اُوبيلي او د هيجړاګانو په شان به تبنتي او د مږو او سپو په شان [منډې به وهي خو] ځان به نه شي خلاصولې، چه کوم ځائ مونډلې کيږي وژل به شي او په دُنيا کښ او په ورځ د قيامت به ئې نفرت او ملامتيا مُقدَّر وي. (سَوانِحِ کربلا ص۱۲۵) ؎

دیکھے ہیں یہ دن اپنے ہی ہاتھوں کی بدولت
سچ ہے کہ بُرے کام کا انجام بُرا ہے

ع هـر بـد دي نن راپـيـنبن لـه خـپله لاسـه
ربنتيا دي چا وئيلي چه انجام د بدو بد وي

www.dawateislami.net

# مُختار د نُبُوّت دعویٰ وکړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! هيڅ څوك هُم د ځان په باره کښ نه دي خبر چه د **اللّٰه** تعالیٰ پټ تدبير د هغه په باره کښ څه دي . **مُختار** ثقفي چا چه د حضرتِ اِمامِ حُسين رضي الله تعالى عنه يو يو قاتل مړ کړو او د عاشقانِ حُسين زړونه ئي خوشحاله کړل، په هغه باندې شقاوتِ اِزَلي غالِب راغي او د نُبُوَّت دعویٰ ئي وکړه او وئيل ئي چه په ما وحي راځي. (الصَّواعِقُ المُحَرَّقَة ص١٩٨)

وسوسه: دومره زبردست عاشقِ اَهلِبَيت څنګه ګُمراه کيدې شي. آيا کوم يو د نُبُوَّت د دروغو دعویٰ کوونکي ته د داسې شاندارو کارنامو توفيق حاصليدې شي؟

د وسوسې عِلاج: **اللّٰه** تعالیٰ بې نيازه دې. د هغه د **پټ تدبير** نه هر يو ته يَريدل پکار دي چه معلومه نه ده زمونږه سره به څه کيږي! اوګورئ! **شيطان** هُم ډير زبردست عالِم و فاضِل او عابِد او زاهِد وو. هغه زرګاؤ کاله عبادت کړې وو خو شقاوَتِ اَزَلي پرې غالِب شو او کافِر او ملعون شو. بَلعَم بِن باعُوره هُم ډير غټ عالِم، عابِد و زاهِد او

مُستَجابُ الدَّعَوات وو. هغه د اِسمِ **اعظم** عالِم وو په خپل ځائ به ناست وو او عرشِ اعظم به ئې ليدلو خو چه شقاوَتِ اَزَلي پرې غالِب راغې نو بې ايمانه مړ شو او د سپي په شکل کښې به جَهنَّم ته داخِليږي. **اِبنِ سقا** چه ډير ذهين ترين عالِم او مناظِر وو خو د وخت د **غـوث** بې اَدَبي ئې وکړه او آخر دا چه د نصرانئ [يعني عيسائينې] شهزادګۍ په عِشق کښې اخته شو او د نصراني مذهب قبلولو نه پس د ذِلَّت په مرګ مړ شو.

**الله** تعالیٰ خپل حبيب حضرتِ سَيِّدُنا محمد مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې وحي راوليږله چه ما د **يحيٰ بن زکَرِيَّا** (عَلَيْهِمَاالسَّلَام) د قتل په بدله کښې اويا زره کسان وژلي وو او ستا د نمسي په بدله کښې به د دې په دوه هُمره وژنم. (اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكِم ج ٣ ص ٤٨٥ حديث ٤٢٠٨)

نو تاريخ ګواه دې چه د **حضرتِ يحيٰ بن زکَرِيَّا** (عَلَيْهِمَاالسَّلَام) د قتلِ ناحق د بدل اخستو د پاره **الله** تعالیٰ د بخت نَصَر په شان ظالم مُتَعَيَّن [يعني مُقرر] کړو چه هغه به خُدائي دعویٰ کوله. هُم دغسې د

www.dawateislami.net

حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ حُسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قتلِ ناحق بدله اخستو د پاره الله تعالٰی د **مُختار ثَقفي** په شان کَذَّاب مقرر کړو. (شامِ کربلا ص ۲۸۵)

د الله تعالٰی په مصلحتونو هغه ښځه ښه پوهيږي. هغه په خپل مَشيَّت [يعني ښځه خوښه] د ظالـمانو په ذريعه ظالِـمانو تباه کوي. چنانچه ارشاد فرمائي: وَ كَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ (پ۸، الانعام: ۱۲۹) مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او هُم دغسې مونږه ظالـمان په يو بل مُسَلَّط کوو. د هغوئي د کړو په وجه.

حُضُورِ انور، شافِعِ روزِ مَحشر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه الله (تعالٰی) د دې دِينِ اسلام مدد د فاجِر يعني بدکاره سړي په ذريعه هُم کوي. (صَحِیْحُ الْبُخاری ج۲، ص۳۲۸ حدیث ۳۰۶۲، دار الکتب العلمیة بیروت)

## د الله تَعالٰی د پټ تدبِير نه يَريدل پکار دي

مونږ ته هر وخت د الله تعالٰی نه يَريدل پکار دي، په خپل عِلمِيَّت او شان و شوکت او بدني طاقت باندې د فخر کولو نه او د خُلې د چالاکۍ او ډيرو خبرو نه پرهيز کول ضروري دي ځکه چه مونږ ته معلومه نه ده چه په عِلمِ اِلٰهی کښې زمونږه څه مقام دي.

www.dawateislami.net

چرې داسې ونشي چه ايمان مو برباد شي. د اِيمان د حِفاظت د پاره د فِکرمند اوسيدو ذِهن جوړولو د پاره او د عِشقِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم و عِشقِ صحابه و اَهلِبَيت عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان حاصلولو د پاره، د دِيني معلوماتو زياتولو د پاره او ځان د ګناهونو نه بچ کولو د پاره اود نيکو کولو او ډير ډير ثواب ګټلو د پاره ټولو اسلامي ورونړو ته پکار دي چه هره مياشت کم از کم د درې ورځو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِلو** کښې د **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. اسلامي ورونړه دِ هره ورځ د **فِکرِ مدينه** په ذريعه د ۷۲ **مَدَني انعاماتو** او اسلامي خويندې دِ د ٦٣ **مَدَني انعاماتو** رساله [کښې خانې] ډکوي او [د هرې مَدَنـي مياشتې په يکم تاريخ دِ ئې] خپل تنظيمي ذِمَّه دار [او ذِمَّه دارې] ته جمع کوي.

يا **الله** د شاهِ خيرُ الاَنام صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د شهيدِ مظلوم اِمامِ عالي مُقام او د کربلا د ټولو شهيدانو او قيديانو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په خاطر زمونږ د ايمان حفاظت اُوفرمائې، مونږ ته په قبر او حشر کښې امان راکړې او زمونږه بې حسابه بخښنه اُوفرمائې. يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د شين شين ګُنبد لاندې د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار په

www.dawateislami.net

ننداارو کښې د اِيمان او عافِيَّت سره شهادت، په جَنَّتُ البقيع کښې خښيدل او په جَنَّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مشکلیں حل کر شہ مشکل کشا کے واسطے
کر بلائیں رد شہید کربلا کے واسطے

مشکلات کړه حل مې د مُشکل کُشا په واسطه
لري بلاګاني کړه د شهيدِ کربلا په واسطه

## د عاشُوراء فضائل

### د عاشُوراء ۲۵ خُصُوصِيات

(۱) په ۱۰ مُحَرَّمُ الْحَرَام يعني د عاشورې په ورځ د حضرتِ سَيِّدُنا آدم صـفِـيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام توبه قبوله شوه (۲) په هُم دې ورځ هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام پيدا شوې وو (۳) په هُم دې ورځ جَنَّت ته داخل کړې شو (٤) په هُم دې ورځ عرش (۵) کُرسئ (٦) آسمان (۷) زمکه (۸) د نمر سترګه (۹) سپوږمۍ (۱۰) ستورې او (۱۱) جَنَّت پيدا کړې شو (۱۲) په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام پيدا شو

(۱۳) په هُم دې ورځ هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ته د اور نه خلاصې ورکړې شو (۱٤) په هُم دې ورځ حضرتِ سَیِّدُنا مُوسیٰ کلیمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي قوم ته نَجات حاصل شو او فرعون سره د هغه د قوم غرق شو (۱۵) په هُم دې ورځ حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام پیدا شو (۱٦) په هُم دې ورځ (حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام) آسمانونو ته پورته کړې شو (۱۷) په هُم دې ورځ د حضرتِ سَیِّدُنا نُوح عَلَيْهِ السَّلَام کشتۍ په کوهِ جُودي ودریدله (۱۸) په هُم دې ورځ حضرتِ سَیِّدُنا سُلیمان عَلَيْهِ السَّلَام ته مُلكِ عظیم [یعني لویه بادشاهي] ورکړې شوه (۱۹) په هُم دې ورځ حضرتِ سَیِّدُنا یُونُس عَلَيْهِ السَّلَام د مهي د خیټې نه راویستلې شو (۲۰) په هُم دې ورځ د حضرتِ سَیِّدُنا یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د بِینائي ضُعف لرې شو (۲۱)په هُم دې ورځ حضرتِ سَیِّدُنا یوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د جَور کوهي نه راوِیستلې شو (۲۲)په هُم دې ورځ د حضرتِ سَیِّدُنا اَیُّوب عَلَيْهِ السَّلَام تکلیف لرې شو (۲۳) د آسمان نه په زمکه وړومبې باران په هُم دې ورځ نازِل شو او (۲٤) د هُم دې ورځې روژه په تیرو اُمَّتونو کښې مشهوره وه تر دې پورې وئیلې شوي دي چه د دې ورځې روژه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه مخکښې فرض وه بیا منسوخ کړې

www.dawateislami.net

شوه (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۳۱۱) (۲۵) هُم دې د عاشُورې په ورځ اِمامُ الهِمام، اِمامِ عالي مُقام حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ حُسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره د خپلو شهزادګانو او سره د ملګرو د درې ورځو د لوږې او تندې نه پس په دَشتِ کربَلا کښې په اِنتِهائي بې رَحمۍ سره شهید کړې شو.

## د ''کربلا'' د پینځه حُرُوفو په نِسبت د مُحَرَّمُ الْحَرَام او د عاشُورې د روژو ۵ فَضائل

﴿۱﴾ د حضرتِ سَیِّدُنا ابُو هُرَیره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه، حُضُور نَبِیِّ کریم رَءُوفٌ رَّحِیم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د رَمَضان نه پس د مُحَرَّم روژه افضل [یعني غوره] ده او د فرضو نه پس افضل لـمونځ صَلٰوةُ الَّیل (یعني د شپې نفلونه) دې. (صحیح مُسلِم ص۸۹۱ حدیث۱۱۶۳)

﴿۲﴾ د خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې: د مُحَرَّم د هرې ورځ روژه د یوې میاشتې د روژو برابره ده. (طَبَرانی فِي الصَّغِیر ج۲، ص۸۷ حدیث۱۵۸۰)

## د عاشُورې روژه

﴿۳﴾ حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله ابنِ عبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: ”ما د دوارِو جهانو سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یوې ورځې روژه د بلې ورځې په مقابله کښې په فضیلت ورکولو او جُستُجُو کولو نه دې لیدلې مګر دا چه د **عاشورې** ورځ او دا چه د **رَمَضان** میاشت.“

(صَحِیْحُ الْبُخَارِی ج۱ ص۶۵۷ حدیث ۲۰۰٦)

## د یَهُودیانو مخالفت کوئ

﴿٤﴾ **نَبِیِّ رَحمت، شَفِیْعِ اُمَّت، شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت، تاجدارِ رِسالت** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د عاشورې د ورځې روژه نیسئ او په دې کښې د یهُودیانو مخالَفت کوئ، د دې نه مخکښې یا ورروسته هُم د یوې ورځې روژه نیسئ. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج۱ ص۵۱۸ حدیث ۲۱۵٤)

یعني چه د **عاشُورې** روژه کله هُم نِیسئ نو ورسره د نَهَم یا یوولسم **مُحَرَّمُ الْحَرَام** روژه نیول هُم بهتر دي.

﴿۵﴾ د **حضرتِ** سَیِّدُنا اَبُو قَتَاده رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه، رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته په **الله** جَلَّ جَلَالُہٗ باندې ګُمان دې چه **د عاشُورې** روژه د یو کال مخکښنئ ګناهونه ورانوي. (صحیح مُسلِم ص۵۹۰ حدیث ۱۱٦۲)

## ټول کال د سترګو د خُوږیدو او مرضونو نه حفاظت

**مُفَسِّرِ شَهِیر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ

www.dawateislami.net

فرمائي: څوك چه د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** د نهمي او **لسمي** ورځي روژې ونيسي نو ډير ثواب به مومي. د بال بچو د پاره دِ په لسم **مُحَرَّم شريف** ښه ښه خوراكونه پاخه كړي نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ تعالیٰ ټول كال به ئي په كور كښې بَرَكتونه وي. بهتره ده چه **كِچړا**[1] پخه كړي او د شهيدِ كربلا حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اِيصالِ ثواب د پاره دِ پرې فاتِحه ولولي ډير **مُجَرَّب** (يعني ازمائيلي شوي) دي. په هُم دي تارِيخ چه **غُسل** وكړي نو ټول كال به اِنْ شَآءَاللّٰهُ تعالیٰ د **بيمارو نه په امن كښې اوسي** ځكه چه په دې ورځ آبِ زم زم ټولو اوبو ته رسيږي. (تَفسِيرِ رُوحُ البَيان ج٤ ص١٤٢ كوئٹه. اِسلامی زِندگی ص ٩٣ مَكْتَبَةُ الْمَدِينه) سرورِ كائِنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: څوك چه د عاشورې په ورځ اِثمد رانجه ولګوي نو د هغه سترګې به كله هُم نه خوږيږي. (شُعَبُ الْإِيمان ج٣ ص ٣٦٧ حديث ٣٧٩٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] [چه غوښه او د چنې دال داسې ګډ وَډ وراسته پاخه كړې شي چه بالكل ليتئ غوندې ترې جوړه شي، دې ته عوام "حليم" وائي خو حَلِيم د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ صفاتي نوم دې ځكه اميرِ اَهلِسُنَّت فرمائي چه د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د نامه د ادب په وجه دې ته "حليم" نه بلكه "كِچړا" وئيل پكار دي. او اصل نوم ئي "لَحِيم" دي يعني د لَحم يعني غوښې نه وتلې لفظ دې]

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## نیك او نمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لـمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ✿ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ✿ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار په "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ










مکتبة المدینه
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286

فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net

www.dawateislami.net